# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| | |
|---|---|
| مسائل ایدئولوژیک | Ideological |


ترتیب کونکی : الحاج داکترامین الدین "سعیدی – سعید افغانی"

۱۹ اپریل ۲۰۲۰

## تدابیر او توکل

احتیاط او ځان ساتنه، او د هلاکت د اسبابو څخه ځان ژغورنه، اوټولې چارې الله تعالی ته سپارل، او په الله تعالی باورکول، پرته د سوچ فکر او هر ډول تشویش، څخه:

ابن اثیر په خپل کتاب: الکامل فی التاریخ کی لیکی :

کله چی مسلمانان په عمواس نومي وباء مبتلاء شول، عمرو بن العاص روغ خلک غرونو ته د یو وخت لپاره و ویستل او په غرونو کی یی ډلي ډلي وویشل، او د یو بل سره د یو ځای کیدو څخه یی منع کړل، تر ډیر وخته دا ډلي په غرونو کی پاتی شوې تر څو په ښارونو کی په ناروغۍ اخته ټول ناروغان شهیدان شول نو په غرونو کې پاتي ټولې ډلي ښارونو ته راستانه شوې، او همدا د هغه مهال روغتیایي ځان ساتنه وه.